محمد اسحاق برکت
ویرجینیا ـ امریکا

۲۵ جنوری ۲۰۰۹

# طـلب پــوزش

در امتنانیه ای که زیر عنوان "مـنـنـه" به فخرالشعراء جناب"اسیر" تقدیم گردیده، بنا بر کثرت اوراق روی میز، چند (لندۍ) از جملـه فراموش شده. دریغم آمد که از آن اغماض و صرف نظر کنم. لذا آنها را با کمال خضوع و خشوع و طلب پوزش از جناب فخرالشعـراء و سایر خوانندگان ارجمند ، ذیلاً تقدیم و بر آن می افزایم :

کاغذه ورشه احترام کړه په تعظیم شه
وروسته رويبار شه ورته وايه سلامونه

او بيا نېږدې شه دوه لاسونه ورته ښکول کړه
غيږ به دې خلاص کړې ترې چاپير کړه دوه لاسونه

له ښکلي مخ نه بيا ترې واخله دوه پچکې (۱)
عمـر آخـردی بيا به نه وی فرصتونه ديـــدنونه

۱ ـ پچکه ، به معنای بوسه؛ دغه لغت د لـوګر په پښتنو کې ډېر استعمالیږي ما شخصاً له نورو پښتنو نه ندي اورېدلي.

# مـنـنـه

له خوشحالی نه په کا لو کې نه ځاپيږم
د شاعرانو افتخار راته لېـږلي پيغامـونه

چې د( اسير) پيغام مې ولوست انترنيت کې
له خوشحالۍ نه په خپل ځای وهـم ټوپـو نه

د خـدايتعــالی رابانـدې لطـف شــو
چې( اسير ) زما د زړګي وايستل غـمـونــه

کاغذه ورشه احترام کړه په تعظيم شه
وروسته رويبارشه ورته وايه سلامونه

مــبارکــي را کــړئ عــالـــمــه
زه نن ( اسير ) ته امتنان وړاندې کومه

( اسير ) پــه ټـولـو بانـدې ګـران دی
د شاعرۍ ښکلي (نسيم) سره عالم تازه کوينه

پـردی وطـن راتــه دوزخ دی
( اسير ) پخپل شعر راته جوړکړل جنتونه

خپل وطن خو ښايسته او خپل وطن دی
خو اهريمنو کـې جوړ کـړي دوزخونه

( اسير ) د خلکو په دردونو ښه پوهيږي
بي درده يــار ته بــه ونه وايم حالــونه

د زړګــي باغ راتـــه ګـلزار شــــــو
ده ما ته زړه کې ډېر ګلان کرليد ينه

چې ستــا د شعــر کـرښې په کې وي
هغه کتاب په خوشحالی شروع کومه

د بې وطنـی پـــه درد بـــه مـړ يـــم
چې د(اسير) (نسيم) راوالوت جوړبـه يمه

چې د( اسير ) د فروتنی نښې په کـــې وي
هغه شخصيت ته په احتــرام ودرېــــږمــه

چې دقلم ياران يو ځای شي انترنيت کې
په رقيــبانو به دوی جوړ کړي ماتمونـه

د ( معروفي ) به دا خدمت د چا هېر نه شي
چې ليکوالانـو تـه يې جوړ کـړل مجلسونـــــه